محمد ایاز نوري آزادي ٢٠١۶/٠٧/١١

# د خپل پلار نه مې دا خاطرې لیکم



د افغانستان د شاهي دولت د
ملي دفاع وزارت د دیوان
حرب مرستیال رئیس پلي
ډګروال نورالله خان خوستی
١٣۴٢ - ١٣۴٩ ل کلونه

زما مرحوم پلار د افغان شاهي اردو پخوانی ډګروال مشهور په لیوامشر نورالله خان خوستی، خپل د زیږېدو کال یې ١٢٩۶ هجرى لمریز کال هغه وخت د خوست د لویې ولسوالي د مندوزیو د قام د حسن زیو په کلي کښې ښوده. پلار یې
ملک عبدالله جان او نیکه یې ملک عبدالله خان اوغورنیکه ملک کاني خان او لوی نیکه یې شهزاد خان د خوست د مندوزیو د قام مشران تیرشوي ول.
زما پلار ویل، لومړنی دینی زده کړې مې د کلي د جومات د ملا نه پیل کړلې، د اعلیحضرت محمد نادرشاه د واک دریم
کال یعنی په ١٣١١ل کې د پاچا په غوښتنه باید یو ګروپ خوستي هلکان د راتلونکي افسري خدمت لپاره کابل ته د تحصیل لپاره تللي وای. زه مې هم پلار ځائي حکومت ته په لست کې ورکړم او بیا کابل ته راغلم. هغه وخت د حربیې مکتب د کابل ښار د شهر آراء د برج په سیمه کې واقع وه. زه او زما سره ملګرو مې هلته لوست پیل کړ، لیکن پس له یو څه مودې د عسکرې انظباط او نظم او دسپلین تر نامه لاندې مونږ تنکي طلابه د اړونده اداري د افسرانو له خواء توهین، تحقیر او په فزیکي طریقه شدیداً وهل کیدلو. دا د وحشت وضعیت زما او د هغو څو کسو خوستیو هلکانو لپاره د زغم وړ نه وه. مونږ د خوست د شکلي آزادي سیمې نه دلته راوستل شوي وو. له بلې خواء هغه وخت مونږ دومره سیاسي شعور او تحلیل نلرلو، چې اصلاً انګریز د نادرخان په جامه کې بیرته راغلی او خپل تاریخي غچ د افغانانو نه اخلي. زما پلار ویل، پس له څو میاشتو مقاومت بلاخره مونږ څو د پکتیا طلابانو په پټه فیصله وکړله، چې له دې ظلم نه به بیرته خپلو وطنو ته تښتو. بله ورځ مو آخري پلان جوړ اوکله چې د سهار لمونځ روا کیده او ظابط نوکریوال د غفلت په خواږه خوب بیده وه، مونږ د ښوونځي نه په پښو حرکت وکړ او تر لمر خاته پورې مو ځانونه د بینی حصار او ولایتي سیمې ته ورسول. شپې به مو د لارې د یوه کلي جومات کې تیرولي او خلکو به د اسلامی رسم پر بناء د مسافر په نوم خپله یوه ګوله ډوډی زمونږ سره نیموله او مونږ به دعاوی ورته کولې .بلاخره پس له څلورو ورځو تول په پښو مزل، زه خپل پلارني کور خوست ته ورسیدم. کله چې کورته ورسیدم، زما پلار زما په بیرته ورتګ خواشینی شو او ما هم خپل دلیل ورته تشریح کړ. پس له دوو میاشتو بیا د حکومت جلب راغلو او زما نوم هم په کې وه. پلار ویل، څه بچیه بیرته کابل ته لاړ شه، زده کړه درته شه ده او ظابط به شې، د حکومت امر سره زما زور نه رسیږي. ما د پلار خبر ومنله او بیا د یو شمیر ملګرو سره بیرته کابل ته راغلم. دا وارمو فیصله وکړه، چې نه، مقاومت به کوو اوعسکري مکتب به وایو، چې ظابطان شو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

## د اعلیحضرت محمد نادرشاه سره سوال او ځواب

زما پلار ویل، دا د ۱۳۱۲ل کال پیل وه او ما په حربیه ښوونځي مقیم د شهر آراء کې دوام ورکاوه. یو سهار مونږ ته اعلان وشو، چې خپلې قیافې جوړې او ساحه سمه پاکه کړئ، چې تفتیش راځي، لیکن د پاچا د راتګ خبره نه کیده. لس بجې د سهار پاچا نادر خان په یو غرور او بادشاهي شوکت، سره د خپلو یاورانو مکتب ته را داخل شو او مستقیم زمونږ ټولګي ته راغی. صنف د هغه حضور ته تقدیم شو او مونږ طلابه د وخت د پاچا په لیدو حیران بیرته په ځاینو کیناستو. پاچا ماته ګوته ونیوه او په دري ژبه يې راته وویل: «تو بګو! زه پخپل ځای کې تیارسی ودرېدم او په لوړ آواز مې وویل: زه نورالله د پکتیا ولایت نه طلابه ستاسو امر ته حاضر یم! پاچا وویل:« ما پنج قطی روغن داریم در هر قطی پنج پاو روغن موجود است، جمعاً ما چقدر روغن داریم؟» هغه وخت د حساب معلم مونږ ته ضرب زبانی را زده کړې وه، ما ځان سره د پنځو ضرب زباني تکرار کړه او بیا مې په لوړ آواز وویل: صاحب مونږ ټول ۲۵ پاوه غوړي لرو. پاچا لږ موسکا وکړه او خپلو یاورانو او ورسره ملګرو ته يې مخ واړاوه او ورته يې وویل: «ای را ببی، دیروز از کوه پکتیا تا شده، آلی ضرب زبانی را ام یاد ګرفته...؟!.» نور يې ماته څه ونه ویل او له خپلو ملګرو سره زمونږ له صنف نه ووت. زما پلار ویل، هم هغه کال د ژمي په رخصتي خپل کور خوست ته ولاړم او دا قصه مې خپل پلار ته په تفصیل وکړله، زما پلار ویل، «تا به نادر خان ته ویلي وای، چې د پکتیا خلکو خپل بچي تاته مړه کړل او شاهي ارګ يې د سقاو نه تاته تسلیم کړ او اوس ته د پکتیا خلکو ته د وحشیانو خطاب کوې، غرق شي...؟!.» زما پلار ویل، نادر خان، چې ما هغه ورځ مخامخ ولید، یو مرموز، بی رحمه، خطرناک، ډېر عقده اي او نا آرام کس ماته معلوم شو، مخ يې لکه یو بادشاه جذاب نه وه، بیا ما له ځان سره فکر کاوه، چې که د نادر خان پر ځای هغه علم دوسته او معارف پال غازي اعلیحضرت امان الله خان ته ما دا ځواب ویلی وای، نو یو مفت شاباس خو به يې حتماً راته ویلای وای.

## د نادر شاه د وژل کیدو ورځ

زما پلار ویل، دا د ۱۳۱۲ل کال د عقرب د میاشتی ۱۶ نېټه وه. سهار د مکتب اداري یو ګروپ طلابه انتخاب او ورته وویل شول، چې نن په شاهي ارګ کې د تقدیر نامو د ورکولو مراسم د اعلیحضرت له خواء تر سره کیږي. له شه بخته زه په دې ډله کې هغه ورځ شامل نشوم، لیکن زما دوه خوستی شه ملګري هغه ورځ په ډېره خوشالي ارګ ته ولاړل. مازیګر وخت وه، چې دا ګروپ د طلابه بیرته ښووونځي ته راغلل، لیکن ډېر وارخطا ول. بیا ما دغه خپل دوه ملګري کاغوش ته بوتلل او ورنه مې وپوښتل، خبره څه ده او تاسو په ارګ کې څه ولیدل؟ هغوی ماته وویل: اې نورالله، مونږ خو په ارګ کې یوه لویه رسوایي او لوی ماتم ولید، نادرخان يې مړ کړ...! ما په تعجب هغوی وپوښتل، دا ولې او چا دا کار وکړ؟ هغوی دواړو ویل: ،، مونږ ارګ ته په رسیدو منظم په صفونو کې ودرول شولو، بیا پاچا راغلو او عسکري موزیک پیل او ختم شو، پاچا وروان شو تر څو د صفونو مخته یو وار تېر شی. کله، چې د مکتب نجات د طلابو مخ ته وروورسید، مونږ درې ډزې د ټوپک واورېدې، قاتل د همدې نجات مکتب د طلابو نه وه، اړ او دوړ پیل شو، هر چا هر طرف ته منډې وهلې، مونږ سپه سالار شاه محمود خان ولید، چې د ډزنو له ځای نه په تښته شو مونږ د پاچا مړی ولید، چې په ځمکه پروت وه او وینې ورنه بهیدلې، کله چې لږ آرامي شوله بیا د پاچا زوی محمد ظاهر خان راغی، د پلار مړ جسد ته کیناست او بابه جان بابه جان يې ویل او ژړل يې،،.!...

زما پلار ویل، دا زما د دوو ملګرو د سترګو لیدلای حال وه، چې ماته يې په خصوصي توګه ووایه. زما پلار ویل، د پاچا ورور شاه محمود خان به ځکه له صحنې تښتیدلو، چې فکر به يې کاوه، چې دا قاتلین خو به څو کسان وي او پس د پاچا د قتل نه اوس زما وار دئ. زما پلار به په پسته کالو کې د هیواد د خلکو ډېر فقر ته په تبصره کې اولادو او حاضرو اقاربو او دوستانو ته ویل، اول خو جنرال نادر خان انګرېزانو پخپله مخصوصه نقشه پس له بچه سقاو نه د افغانستان بادشاهي ته راووست او اوس دا ظاهرشاه د پلار د وژل کیدو پر وخت روحي شوک لیدلای، د خپل پلار پر مړي يې چیغې کړي دي او سخته عقده يې اخستې ده، اوس د دغه عقدې انتقام د افغانستان د ټولو خلکو نه اخلي، نو که تاسو د دې پاچا نه د افغانستان د خیر او آبادي تمه کوی، ساده ګان یاست. زما پلار به ویل، دوه کاله د نادرشاه د واکمنی او بیا تر کومې سنې، چې سردار محمد هاشم خان صدراعظم کبیر دولتي اختایر درلودونکی وه، د کابل او ټول افغانستان پر فضاء یو لوی ماتم ما احساس کاوه. هر څه استخباراتي شوي ول، خلک یو له بله



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ډارېدل، په عسکري چوکاټ ډېر ظلم جريان لاره. د افرادو او عسکرو فزيکي وهل په اردو کې لکه يو قانون چې پاس شوی وي، تر سره کېدل. د عامو خلکو تر منځ بی اتفاقي تر لوړې کچې پورې رسيدلې وه. خلک په ګېډه وږي او په فکر جاهل او بی سواده لويېدل. زه خپله که څه هم يو د اردو افسر وم، او شخصي عزت مې خوندي وه، ليکن د خپلو خلکو نه جدا کيدلای نشوم، مونږ افغانانوخپل اصلي ناجی امان الله خان له لاسه ورکړی وه.

## پوره يو کال د شاهي ګارډ په لواء کښې

زما پلار ويل، تر ۱۳۱۸ل کال پورې مې په حربي مکتب کې لوست بشپړ کړ او په همدې کال حربي پوهنتون مقيم د تاريخي بالاحصار ته ورشامل شولم. څلور کاله مې د پياده په پوهنځي کې لوست بشپړ او په کال ۱۳۲۱ل کال بريالی د پوهنتون نه فارغ او د دوهم بريدمن (بلوک مشر ثاني) په رتبه افغان اردو ته لاړم. زما لومړنی عسکري وظيفه د کابل د وړو ظابطانو په مکتب کې د بلوک د قوماندان پحيث پيل شوه. هغه وخت سردار محمد داود خان د نورو دندو تر څنګ د خورد ظابطانو د مکتب قوماندان هم وه. يوه ورځ هئيت د دفاع وزارت نه راغلی وه او د ګارډ د لواء لپاره يې صاحب منصبان خوښول. ماته زما خدای راکړې بشره او لوړ قد بلا شول او سردار محمد داود خان هئيت ته ويلي وه، چې دغه بلوکمشر نورالله خان ارګ درسره بوځی. هم هغه وه، چې د ۱۳۲۱ل کال د جدي په مياشت کې زه د شاهي ګارډ لواء ته تبديل او هلته د اعليحضرت د ساتونکي ټولي د قوماندان په توګه مقرر شولم. هغه وخت زه مجرد او د يوه بل افسر سره مې د کابل ښار د سراجي په سيمه کرايی کوټه نيولې وه. د شاهي ګارډ وظيفه آسانه نه وه، زه به يوه ورځ بعد نوکريوال وم او بايد لواء کې پاتې وای. هلته په ارګ يوه تاريخي ښځه هم د شاهي کورنی د حرام سرای په څنګ کې سره اوسيدله، چې په منګله ادې مشهوره وه. هغې ته چا ويلې وه، چې ګارد ته يو خوستی ظابط رامقرر شوی دئ. بيا هغې جنابې زه وراحضار کړم او خپلې سجرې مو سره بيان کړلې. منګلې ادې ماته وويل، ته زما زوی يې او پس له دې، چې د غرمې وخت کې نوکريوال نه وې، ته به د غرمې ډوډی حتماً زما سره خورې. بيا کله به چې ما وخت لاره اکثراً به د

.غرمې ډوډی ما د ادی سره خوړله، چې زمونږ د عسکري افرادو په نسبت يې لوړ کيفيت لاره

د نوکريوالي په شپه به اکثراً د شپې يو نيم يا دوه ساعته به زه توپانچه په څنګ کې په ټول شاهي ارګ ګرځيدم، چوپتيا به وه او برقونه به په لازمو ځاينو کې روښانه ول. ما به ځان سره يو غرور کاوه، چې د دې خپل هيواد افغانستان يو ساتونکی او د بادشاه د کور محافظت کوم، بيا به وخت د شپې له خواء نه ګرندی نه تيرېده، په يوه ګوښه د ارګ کې به ودرېدم، بيا به فکر راغلو چې يو وخت دلته يو عظيم افغان، غازي امان الله خان بادشاه وه، بيا به مې شا او خواء وکتل ، چې دلته او هلته او هلته به حتماً هغه غازي قدم وهلی وي. د پلار او نورو مشرانو نه مې په خصوصي ژوند کې د غازي امان الله د نارينتوب او پاکې وطن دوستی قصې، چې اوريدلې وې هغه به راته مخته راتللې او افسوس به مې کاوه، چې که اوس هم دلته هغه غازي پاچا وای. د ورځې له خواء به مې د حاکم خاندان ټول مهم غړي په ارګ کې سره ليدل، لکه خپله اعليحضرت ظاهرشاه، هاشم خان، شاه محمود خان، شاه ولي خان، داود خان، نعيم خان او نور، ليکن زړه مې نه ورته ورته. سردار محمد هاشم خان صدراعظم کبير لکه ډېر يو جدي کس او په قهر او په غضب به معلوميده، هر سهار لس بجی به د ارګ تيلفون خانې ته راتللو او پوره يو ساعت به بوخت وه او په لوړ آواز او غضب به يې د هر ولايت د نايب الحکومه سره تماس کاوه او بيا به يې د ټول هيواد راپور د خيرت به يې اعليحضرت ته تقديم کاوه.

زما پلار ويل، زما يوولسمه مياشت د خدمت په شاهي ارګ کې پوره کيدله. هغه وخت نظر په تعليمنامې په بعضو مهم ځايونو کې بايد بلوکمشر افسر پهره وای. يوه ورځ د سهار لس بجې وې، زه د خپلو اوږدو عسکري موزو او توپانچې او کرچ سره د ارګ د حرم سرای په دروازه کې، چې پاس ورباندې برج او ملي بيرغ ولاړ وي، موظف پهره دار وم. زه مترصد د اوضاع وم، ومې ليدل، چې پخپله اعليحضرت او د خاندان نور کسان او ياوران يې زما په استقامت د کينې جناح څخه راروان دي. ما احضارات د رسم التعظيم ونيول. کله چې اعليحضرت زما مخې ته راورسيد، ما په مناسب آواز دقت وويل او کرچ مې مخته حواله کړ، له بده تصادفه د کرچ نوکه د پاچا په زنګون نسبتاً کلکه ولګيدله. پاچا يو قدم بل هم واخيست او پر ځای ودريد او مخ يې ماته راواړوه او په نرمه لهجه يې وويل: ،، ببين ظابط صاحب فکر نمی کنی...؟!. بيا پاچا خپل تګ ته دوام ورکړ او زه ساکت پر خپل ځای پاتې وم. په هم هغه ورځ ماسپښين قوماندان د لواء او ريس ارکان د انتقاد په رسم خپلو شعبو ته احضار کړم او نوره کومه جزاء ماته تجويز نشوله. يوه مياشت پس د ۱۳۲۲ل کال د جدي په مياشت زما د تبديلی مکتوب راغی او زه د کابل د حربيې مکتب ته د ظابط صنف په توګه معرفي شولم. مکتوب مې په خوشحالی سره په جيب کې کېښود د ګارډ د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

لواء د ملګرو سره مي خدای په اماني وکړله او خپلي مجردي کوټې ته راغلم، دوه رکعته شکرانه لمونځ مي الله ته اداء کړ او خپل د کوټې ملګري ته مي وويل، شرې خيست که بخير من تمام شد او زه د دې دېر مهم او مشکل ځای نه پخير راووتم.
زما پلار ويل، دغه يو کال ماته کافي وخت وه، چې دغه حاکم خاندان له نژدې تعقيب کړم او مطالعه يې کړم، ځکه زه دوی سره هم وم او د خلکو سره هم وم. ما د دې کور په غړو کې د افغانستان په خلکو رحم نه ليده. دوی د زړه له کومې دا احساس نه لاره، چې دغه ملت په نس وږی دئ. دوی ماته مخلص نه معلوميدل. زما پلار ويل، په دوی کې سردار محمد داود خان د هغه جديت په محوله دندو کې د عياشي نه ځان لرې ساتل ماته د استثاء وړ ول.

نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ